مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجي محمد نوزادی ۲۰۱۹/۰۴/۲۱

# ستاسي تحلیل به په دي اړه څه وي؟



د افغانستان لپاره د اروپایي اتحادیي استازی پیري مایادون د اپریل په ۱۸ نیټه دستراتیژیکو څیړنو په مرکز کي اولسمشری ته د ځینو نوماندانو د وړاندیز په ځواب کي وویل : موږ له دې منطق سره موافق نه یوو چې په راتلونکي میاشت کي د اشرف غنی ددورې پوره کیدو سره سم یو مؤقت حکومت جوړ شي ځکه چې داسي حکومت به اداري د بې یقیني په سمندر کي ډوبې کړي . ده دا هم و ویل چې د ولسمشری انتخابات دی د سولي له پروسي سره نه تړل کیږي اوزیاته یي کړه :

«که انتخابات نه وي باید پر سولې خبرې وکړو، او که د سولې پروسه نه وي باید پر انتخاباتو خبرې وکړو» .

بنايي دا به یوه دیپلوماتیکه ژبه وي چې یوازي دیپلوماتانو ته د پوهیدو وړ وي . خو :

ماته خو ددي خبري له تحلیل نه داسي ښکاری چي که د سولی پروسه پر مخ شړو ، بیا نو د راتلونکو ټولټاکنو خبره ګلچانی ده . که ربنتیا هم دا خبره ګلچانی شوه او د خدای په غوښتنه د سولي لمر را وخوت ، بیا نو د انتخابي اداري بدیل بیله مؤقت حکومت نه بل څه کیدای شي ؟ ستاسي نظر؟

پای .
ډنمارک
۲۰۱۹ / ۴ / ۱۹


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ